مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۰/۲۸

# پخواني مشران

## موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

شهیدان ډېر لرو، غازیان نه لرو	د ننګیالـو هغه کاروان نه لرو
د ژونـد مقصد بانـدې ونه پوهېدو	موږ د پخوا په شان مشران نه لرو



** * ** * ** * **

له دې بې رنګه زندګی ستړی شوم	نور د جنون له دې مستی ستړی شوم
د مینتوب وخت، لیونتوب وخوړو	دنګو شملو کې هغه شان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

داستان د درد او د ژړا يمه زه ربه غمونو ته پيدا يمه زه
په هره خوا په هر ډګر مې وژني چې پرې را غونډ شو اه انسان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

اوس د پښتون دکور کېسې شوې ورکې دلوی وياړونو سلسلې شوې ورکې
د خپلواکۍ لېوال به هر لورې ول اوس پښتنو کښې اتلان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

هر خوا د وينو سيلابونه ښکاري د پردي جنګ تور تصويرونه ښکاري
د سولې ساز مې اوس غوږو کښې نشته چې جګو غرونو کښې بازان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۰/۲۷

موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

m_pesarlai_mooj_depakhoa_pashan_meshran_nalaro.pdf